# سورهٔ قارعه

(وضاحت او حاصل شوي مدني ګلونه)

02-December-2021



هفته وراه د سُنَّتو بکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

# سورۂ قارعه

## (وضاحت او حاصل شوي مدني ګلونه)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ معنٰی ده ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو. نِيَّت د زړه ارادے ته وائي چې کله هُم جُمات ته د داخليدو سعادت درنصيب شي نو ياد ساتئ او د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو . اِنْ شَآءَاللّٰهُ الکريم د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي

ياد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کيدو يا پيشمني او روژه ماتي کولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِيَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

زمونږ د آخري نبي رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: مسلمان چې تر

څو پورې په ما باندې دُرُود شریف لولي، فرښتے په هغه باندې رحمت لیږي، اوس د بنده خوښه ده چې کم لولي او که زیات.[1]

## د بیان اوریدلو نیتونه

مُحترمو اسلامي ورونړو! ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه کوو: فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: "اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّیَّةُ الصَّادِقَةُ" رښتینے نیت بهترین عبادت دے.(2)

اے عاشقانِ رسول! نیك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِیَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي.

❀ د عِلمِ دِین حاصلولو نِیَّت اوکړئ او نور دا نیتونه اوکړئ چې ❀ نظر به ښکته ساتم او ښه په غورسره به بیان اورم. ❀ چې څومره کیدے شي د ډډه وهلو په ځائے به د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت د اَلتَّحِیَّات په شکل کښې کښینم ❀ د علم زده کولو د پاره به پوره بیان اورم ❀ د بیان په دوران کښې به د سُستئ نه ځان بچ ساتم ❀ د خپلې اصلاح د پاره به بیان اورم ❀ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو کوشش کووم.

## د سُورَةُ القَارِعَه مُتَعَلِّق یوه اِیمان افروزه واقعه

حضرت اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عادت مبارك وو چې که یو صحابي به د دریو ورځو پورې د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې

---

[1]...ضیائے درود وسلام، صفحه:2۔
[2]...جامع صغیر، صفحه:81، حدیث:1284۔

حاضر نه شو نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه په باره کښې پوښتنه کوله، که هغه به په سفرکښې وو نو د هغه د پاره به ئې دُعا کوله، او که په مدينه منوره کښې به وو نو د هغه د مُلاقات د پاره به ئې تشريف وړلو، او که هغه صحابي به بيمار وو نو د تپوس د پاره به ئې تشريف ور وړلو.

د يو ځل واقعه ده چې يو اَنصاري صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د دريو ورځو پورې د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر نه شو، حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان نه د هغه مُتَعَلِّق تپوس اوکړو نو اووئيل شو چې: يَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هغه سخت بيمار دے.

دا خبر ئې چې واوريدلو نو خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت اَبُوبکـر صِدِّيق، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم او يو څو نورو صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان سره د هغه تپوس له تشريف يوړلو.

چې آخري نبـي، رَسُولِ هاشَمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل خوږ صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اوليدلو، نو واقعي هغه سخت بيمار وو، خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ډير ښکلي او ښائسته انداز کښې د هغه تپوس اوکړو، د حال احوال پوښتنه ئې ترينه اوکړه. انصاري صحابي خپل حال عرض کړو او ورسره ئې د خپلې بيمارئ سبب بيان کړو، او يوه واقعه ئې هم بيان کړه:

(د هغې واقعے خلاصه څه داسې ده چې) هغه انصاري صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عرض اوکړو: يَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! يوه ورځ زه د ماښام په وخت کښې جمات ته حاضر شوم، تاسو د لمَانځه امامت فرمائيلو، ما ستاسو په اقتداء کښې د جَمعې د لـمانځه سعادت حاصل کړو، يَـا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په هغه ورځ تاسو په لمَانځه کښې د **سُورَۀ قَارعه** تلاوت کړے وو، د هغې په اوريدلو په ما باندې د خَوفِ خُدا غلبه اوشوه، ما دُعا اوکړه: **يَـا الله پاکه! ما په دُنيا کښې په ازميښت کښې واچوې، خو د آخرت عذاب رانکړې.**

انصاري صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نور عرض اوکړو: يَـا رَسُولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د هغې دُعا نه پس زما دا حالت دے چې تاسو ئې وينئ.

د خپل خوږ صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په دې خبره باندې خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: تا بد کړې دي......! آيا دا ښه نه وه چې تا د **الله** پاك نه د دُنيا هم خير غوښتے وے، او د آخرت دِ هم خير غوښتے وے او د دوزخ نه د بچ کيدلو دُعا دِ هم کړې وے؟

بيا خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حڪم اوکړو چې اوس د دُنيا او د آخرت د خير دُعا اوغواړه! انصاري صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فوراً په حڪم باندې عمل اوکړو، [او] د دُنيا او آخرت د خير دُعا ئې اوکړه. سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پخپله هم د هغه د پاره دُعا اوکړه.

سُبۡحٰنَ الـلّٰه! د هغه دُعا داسې اثر ښکاره شو چې راوي وائي: هغه صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ راپاڅيدلو، داسې ښکاريده لکه هغه [مخکښې] په پړو تړلے شوے وو، او اوس آزاد شو.(1)

## د دې اِيمان افروز واقعے نه حاصل شوي درې مدني ګلونه

### (1) لمُونځ په تَوَجُّه سره ادا کوئ.....!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! تاسو اوليده! چې هغه انصاري صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ څنګه د **الله** پاك ويره لرونڪے وو....!! او غور اوکړئ چۀ هغوئي به څنګه په خُشُوع و خُضُوع سره، په پوره تَوَجُّه سره لمُونځ ادا کولو. کاش چې مونږه هم د پينځَه وخته لمُونځونو پابند جوړ شو، کاش چې مونږ ته هم په توجه او خشوع و خضوع سره د لمُونځ ادا کولو توفيق رانصيب شي. که مونږه د سُبۡحٰنَکَ اللّٰهُمَّ نه تر سلام ګرځولو پورې پوره

1...مُسْنَدِ ابُو يعلى، جلد:3، صفحه:140، حديث:3429۔

لمُونځ او د قرآنِ کریم د یو څو سُورتونو د ترجمې سره یاد کړو نو په معنیٰ باندې د توجه ساتلو او په هغې د پوهیدلو سره لمُونځ ادا کوو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! په لـمانځه کښې به مو ډیر ښه زړه لګي.

## (2) د تلاوتِ قرآنِ کریم مُتَعَلِّق یو مدني ګل

اے عاشِقانِ رسول! د انصاري صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د واقعې نه مونږ ته یو بل مدني ګُل حاصل شو او هغه دا دے د قرآن اثرقبلول ☸ **یو دا دے:** قرآنِ کریم لوستل یا اوریدل ☸ **دویمه درجه دا دہ:** د قرآنِ کریم په معنو پوهیدل او ☸ **دریمه درجه دا دہ:** په قرآنِ کریم کښې چې کوم ارشاد شوے، د هغې اثر قبلول . اوګورئ! هغه انصاري صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه سُورۂ **قَارعه** واوریدلو، د هغې په معنې پوهه شو او د هغې نه ئې اثر هم واخستلو، په سُورۂ **قَارعه** کښې د قیامت د سختو او د آخرت د حسابِ ذِکر دے، چې کله هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دا سُورت واوریدلو نو په هغوئي باندې خوفِ خُدا غالب شو، دا دے د قرآنِ کریم اثر قبلول.

دا ډیره اهمه خبره ده، که مونږه په داسې انداز د قرآنِ کریم تلاوَت کوونکې جوړ شو، چې د قرآنِ کریم تلاوت هم اوکړو، په هغې ځان هم پوهه کړو او د هغې نه اثر هم واخلو نو یقین اوکړئ چې زمونږ ژوند به ښائسته شي، زمونږ په ژوند کښې به د نیکو سپرلي راشي، حضرت وُهَیب بِن وَرد رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: مونږه د قرآنِ کریم د تلاوت کولو، په دې د ځان پوهه کولو او په دې کښې د غور و فِکر کولو نه زیات زړونه نرموونکې بل څیز نه دے لیدلے.[1]

---

[1] ...احیاءُ العلوم مترجم، جلد:1، صفحه:863۔

يعنې د زړه نرمولو، په زړه کښې د خوفِ خُدا پيدا کولو، د زړه نه د ګناهونو خِيرې لرې کولو او په زړه کښې د نيکئ جذبه پيدا کولو د پاره د ټولو نه زيات اثر کوونکے کوم خيز دے؟ هغه دا دے چې مونږه د قُرآنِ کريم تلاوت اوکړو، ځان پرې پوهه کړو، په دې کښې غور و فِکر اوکړو او د دې اثر قبول کړو.**الله** پاك دِ مونږ ټولو ته توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِيني تحريك دعوتِ اسلامي مونږ ته د قرآنِ کريم زده کولو او په دې د ځان پوهه کولو ډيرې موقعے راکړې دي، مثلاً ❁ د ذِيلي حلقے دولسو ديني کارونو کښې يو ديني کار: **د تفسير اورولو او اوريدلو حلقه** (عام طور دا د سحر د لمَانځه نه پس لګي. په دې کښې د قرآنِ کريم درې آيتونه د ترجمه او تفسير سره لوستلے کيږي) په دې کښې شريك کيږئ! ❁ دغه شان د ذِيلي حلقے دولسو ديني کارونو کښې يو ديني کار: د اسلامي ورونړو **مدرسةُ المَدينه** ده (په دې کښې قرآنِ کريم د صحيح تجويد و مخارج سره ښودلے کيږي) په دې کښې شريك کيږئ! ❁ د دعوتِ اسلامي اشاعتي ادارے مکتبةُ المَدينه ترجمۂ کنزُ الايمان، ترجمه کنزُ العرفان، تفسير خزائنُ العرفان وغيره کتابونه چاپ کړي دي، هغه اولولئ، ❁ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مکتبةُ المَدينه صراطُ الجِنان هم چاپ کړے دے، ❁ صراطُ الجِنان په اُردو ژبه کښې دے، ❁ صراطُ الجِنان په اُردو کښې ليکل شوو تفاسيرو کښې تر اوسه پورې د ټولو نه نوے تفسير دے، ❁ په دې کښې د قرآني آيتونو آسان انداز کښې وضاحت شوے دے او د آياتِ قُرآني نه حاصل شوي سبق آموز مدني ګلونه هم پکښې ذِکر شوي دي، ❁ د عقائدو او اعمالو د اصلاح د پاره پکښې ځائے په ځائے احاديث، شرعي احکام، د احکامو حکمتونه، د بُزرګانِ دين د نصيحتونو نه ډك واقعات وغيره هم د آيتونو په ضِمن کښې ذِکر شوي دي، تاسو يخپله هم د صراطُ الجِنان نه کم از کم درې آيتونه

د ترجمه و تفسير سره د لوستلو نيت اوکړئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ، ❁ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي آئي ټـي ډيپارټمنټ اَلْقُرْآن مَعَ تَفْسِيْر ( Al-Quran with Tafseer) موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، ❁ په دې ايپلي کيشن کښې قُرآنِ کريم، ترجمه او تفسير صراطُ الجِنان شامل دے، ❁ په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ او د دې په مدد سره د قرآنِ کريم تلاوت کوئ، ترجمه و تفسير لولئ، په قرآنِ کريم باندې ځان پوهه کوئ او په دې د عمل کولو کوشش هم کوئ. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! ژوند به مو ښائسته شي.

## (3) په دُعا غوښتلو کښې يو احتياط

اے عاشِقانِ رسول! هغه انصاري صحابي د چا چې مونږه واقعه واوريده، په هغوئي باندې چې د **اللّٰه** پاك ويره غالبه شوه نو هغوئي د دُنياوي ازميښت او د آخرت د بهترئ دُعا اوکړه. دا کيدے شي چې د خوفِ خُدا د غلبے په سبب شوي وو، خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته خبردارے ورکولو کښې اوفرمائيل: آيا دا ښه نه وه **چې تا د اللّٰه پاك نه د دُنيا هم خير غوښتے وے، او د آخرت دِ هم خير غوښتے وے او د دوزخ نه د بچ کيدلو دُعا دِ هم کړې وے؟**

د دې نه معلوم شو چې هر څنګه کيفيت وي، هر څنګه حالت وي، مونږ له پکار دي چې مونږه د **اللّٰه** پاك نه د ازميښت دُعا نه کوو، دا دُعا نه کوو چې اے **اللّٰه پاكه**! ما بيمار کړې، اے **اللّٰه پاكه**! ما غريب کړې بلکه مونږ له پکار دي چې په هر حال کښې د دُنيا هم خير غواړو او د آخرت هم خير غواړو. آخر سوچ اوکړئ مونږ د **اللّٰه** پاك نه سوال کوو، **اللّٰه** پاك رحمٰن او رحيم دے، جَوَّاد او کريم دے، د **اللّٰه** پاك په خزانو کښې هيڅ کمے نشته، **اللّٰه** پاك خپلو بندګانو ته بے حسابه ورکوي، لِهٰذا پکار ده چې مونږه په دُعا کولو کښې کنجوسي نه کوو، چې مونږه د ټولو جهانونو د ربّ نه غواړو نو پکار ده

چې ډير څه ترينه اوغواړو، د دُنيا بهتري هم ترينه اوغواړو او د آخرت بهتري هم ترينه اوغواړو، هر څه ترينه اوغواړو. **الله** پاك په قرآنِ كريم كښې د ايماندارو دا وَصف بيان كړے دے چې د ايمان خاوندان كله دُعا كوي نو داسې وائي:

| | |
|---|---|
| رَبَّنَاۤ اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّ فِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۲۰۱﴾ (پاره:2، سورۂ بقره:201) | [مَفهُوم] ترجمۂ كنزُالايمان: اے زمونږه ربه! مونږ ته په دُنيا كښې خير راكړې او په آخرت كښې (هم) خير راكړې او مونږه د دوزخ د عذاب نه اُوساتې. |

**الله** پاك دِ مونږ ته په صحيح انداز كښې د آدابو خيال ساتلو او ښو ښو نِيَّتونو سره په كثرت سره د دُعاګانو كولو توفيق راعطا كړي. **اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

# د سُورۂ قارعه وضاحت

## د سُورۂ قارعه مختصر تعارُف

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** ❁ سُورۂ **قارعه** يعني د كوم مبارك سُورت تلاوت چې هغه اَنصاري صحابي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ژبې مباركې نه اوريدلے وو او په هغوئي باندې خَوفِ خُدا غالب شوے وو، دا د قرآنِ كريم مختصر سُورت دے، ❁ په ديرشمه سيپاره كښې دے ❁ په دې كښې يوه ركوع او 11 آيتونه دي ❁ په دې سُورت كښې د قيامت سختئ بيان شوي دي[1] ❁ د بنيادي مُضامينو په اعتبار سره په د سُورۂ **قارعه** كښې درې حِصّے دي: ❁ په **وړومبۍ حِصّه** كښې د قيامت ويره او سختي بيان شوي ده، ❁ بيا چې كله قيامت راشي، هغه وخت به د دُنيا څه حالت

1 …تفسير صراط الجنان، پاره:30، سورة القارِعه، جلد:10، صفحه:801۔

شي، په **دويمه حِصَّه** کښې د دې **مختصر** بيان دے، ❁ او په **دريمه حِصَّه** کښې د قيامت د ختميدو بيان دے چې د قيامت د امتحان نه پس به څوك په څه حال کښې وي؟ راځئ چې د سُورۂ **قَارعه** وضاحت او د دې نه د حاصليدونکو يو څو مدني ګلونو اوريدلو سعادت حاصل کړو:

## د سُورۂ قَارعه، دآيت 1 نه 3 پورې وضاحت

د سيپاره 30، د سُورۂ **قَارعه** په ابتدائي درې آيتونو کښې **اللّٰه** پاك ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَلْقَارِعَةُ ﴿۱﴾ مَا الْقَارِعَةُ ﴿۲﴾ وَمَاۤ اَدْرٰىكَ مَا الْقَارِعَةُ ﴿۳﴾ | مفهوم ترجمه کنز الايمان: زړه درزوونکې، څه ده هغه زړه درزوونکې، او تا ته څه معلومه ده چې زړه درزوونکې څه ده؟ |

**اَلْقَارِعَةُ:** د قيامت يو نوم دے. دا د لفظِ **قَرْعٌ** نه جوړ دے. يو څيز چې بل څيز ته داسې په زوره اووهلے شي چې ګړځيدونکے آواز ترينه پيدا شي، دې ته په عربئ کښې **قَرْعٌ** وائي.[1] دا آواز چې څومره زورور وي هغه همره به ډير زړه درزوونکے وي، که انسان په غفلت کښې وي يا په خپل خيال کښې ناست وي نو داسې ناڅاپه ګړځيدونکي آواز اوريدلو سره ئې زړه نور هُم زيات درزيږي. مَثَلاً ❁ انسان په خپل سوچ کښې په کار کښې مصروف وي او يو کس ناڅاپه د هغه خوا ته په اوچت آواز خبرې اوکړي يا تيز پړنجے اوکړي نو بعضې وخت انسان ټوپ اوکړي او بدن ئې اورپيږي، ❁ که بنده اُوده وي، او د هغه خوا ته څوك شور اوکړي نو بنده ناڅاپه اُويَريږي او راپاڅي، ❁ بعضې وخت د ګاډې د ډير زيات تيز آواز سره هُم د انسان زړه

---

1 ...تفسير روح المعاني، پاره:30، القارعة، زيرِ آيت:1، جلد:15، جزء:30، صفحه:621۔

درزیږي. اوس لږ دا مثالونه په ذِهن کښې اوساتئ او د هغه وخت [یعني د قیامت] تَصَوُّر اوکړئ! چې ټول خلق به [بے خبره] په خپلو خپلو کارونو کښې مصروف وي، څوك به په کور کښې وي، څوك به په بازار کښې وي، تاجِر به په کاروبار کښې مصروف وي، زمیندار به په پټو کښې مصروفه وي، څوك به طعام خوري، زنانه به په کور کښې په خپلو کارونو کښې مصروفه وي، څوك به د خپلو دوستانو سره ناست وي ګپ شپ به لګوي، ناڅاپه به یوه زوروره زلزله راشي، ټوله زمکه به اُودرزیږي، آسمان به اوشلیږي، ستوري به د باران په شان زمکې ته راغوزار شي، اوچت اوچت غرونه به ریزه ریزه شي، غټې غټې سیّارے به په خپل مینځ کښې اوجنګیږي او ریزه ریزه به شي، تَصَوُّر اوکړئ! هغه وخت به څنګه ویروونکي آوازونه پیدا کیږي! څومره خوفناکه دهماکه به وي...!هغه وخت به زړه څنګه درزیږي! څومره وارخطائي به وي....!! **اللّٰه** پاك ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَیْءٌ عَظِیْمٌ ① یَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّاۤ اَرْضَعَتْ وَ تَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَ تَرَى النَّاسَ سُكٰرٰى وَ مَا هُمْ بِسُكٰرٰى (پاره:17، سورۂ حج:2.1) | مفهوم ترجمه: بیشکه د قیامت زلزله ډیر غټ څیز دے، په کومه ورځ چې تاسو هغه اووینئ (نو حال به دا وي چې) هره پےئ ورکوونکي [مورا] به خپل د پئیو بچے هیر کړي او هره حمل والا به خپل حمل اوغورزوي، او ته به خلق وینې لکه هغوئي چې په نشه کښې وي حالانکه هغوئي به په نشه کښې نه وي. |

اے عاشِقانِ رسول! دا ده قارِعَه...! دا دے تندر، دا دے زړه درزوونکے، د څه نه به چې زړونه اودرزیږي، زړونه به خُلې له راشي، وارخطائي به خوره شي، تر دې پورې چې پےئ ورکوونکي موریانې به خپل د پئیو ماشومان هیر کړي. هغه به داسې زلزله

وي چې كله به هم چا داسې زلزله نه وي ليدلي، هغه داسې تندر [يعني كړَس] دے چې هغسې تندر به چا نه وي اوريدلے، هغه داسې خوفناكه تباهي ده چې د هغسې تباهۍ پوره تَصَوُّر هم نه شي كيدے. په دې وجه **الله** پاك ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَمَاۤ اَدْرٰىكَ مَا الْقَارِعَةُ ؕ﴿۳﴾ (پاره30،سورة القارعة:3) | مفهوم ترجمه: او ته څه پوهه شوې چې زړه درزوونكے څه دے؟ |

## د سُورۂ قارعه د آيت نمبر 4 او 5 وضاحت

د سُورۂ **قارعه** آيت: 4 كښې **الله** پاك ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| يَوْمَ يَكُوْنُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ ۙ﴿۴﴾ | مفهوم ترجمه: په كومه ورځ به چې انسانان د خورو شوو پتنګانو په شان وي. |

واړه واړه اَلوَتونكي چينجي كوم چې عام طور د بارانه په موسم كښې رالوځي او رنړا مثلاً بلب، راډ وغيره نه تاويږي راتاويږي، يعني پتنګان، دې ته په عربۍ كښې **فَراش** وائي، د آيتِ كريمه معنٰى دا ده چې څنګه پتنګان په شمع يا بلب وغيره باندې رالويدو وخت كښې خواره واره وي، د هغوئي څه طرف نه وي معلوم، كوم يو طرف ته ځي او كوم بل طرف ته، د قيامت په ورځ به د خلقو هُم دا حال وي، چې كله د قبرونو نه را اوچت كړے شي، نو خلق به د خورو شوو پتنګانو په شان وي، په وارخطائي كښې به څوك يو طرف ته ځي او څوك بل طرف ته.[1]

| | |
|---|---|
| وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوْشِ ؕ﴿۵﴾ (پاره30،سورة القارعة:5) | مفهوم ترجمه: او غرونه به د رنګارنګ وهلې شوې وړۍ په شان شي. |

1 ...تفسير صراط الجنان، پاره:30، سورة القارِعه، جلد:10، صفحه:803۔

يعنې د زړه درزوونکي قيامت د سختۍ او ويرې په وجه به اوچت مضبوط غرونه ريزه ريزه شي، او په هوا کښې به اَلوځي، لکه څنګه چې د وړۍ وهلو په وخت کښې د هغې اجزا په هوا کښې اَلوځي. آه! دا خو د مضبوطو غرونو حال دے، نو اندازه اوکړئ! انسان چې هسې هم ډير کمزوري زړه والا دے، د دې سختو او سختې ويرې په وخت به د انسان څه حال وي؟ [1]

دا دے **قارعه**: دا دے زړه درزوونکي، دا دے هغه خوفناك وخت چې غرونه به هم په خپل ځائے قائم پاتې نه شي.

## د قيامت قائميدو خوفناك منظر

د صحابئ رسول حضرت اَبُوهُريره رَضِیَ اللّٰہ عَنْہُ بيان دے: يوه ورځ نوراني محفل جوړ وو، خوږ آقا صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف فرما وو، صحابۀ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوان هم حاضر وو، په غيبو باندې خبردار آقا صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: بيشکه **اللّٰه** پاك د زمکو آسمانونو جوړولو نه پس صُور [شپيلۍ] جوړه کړه او حضرت اسرافيل عَلَيْهِ السَّلام ته ئې ورکړه، اوس حضرت اسرافيل عَلَيْهِ السَّلام صُور [شپيلۍ] په خُله کښې نيولې او عرشِ اِلٰهي طرف ته ګوري او په دې انتِظار کښې دے چې کله به د صُور [شپيلۍ] پوکلو حکم راکولے کيږي.

حضرت اَبُوهُريره رَضِیَ اللّٰہ عَنْہُ فرمائي: ما عرض اوکړو: يَـا رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا صُور [شپيلۍ] څه څيز دے؟ اوئې فرمائيل: يو (نُوراني) ښکر دے. ما عرض اوکړو: څومره غټ دے؟ اوئې فرمائيل: ډير غټ دے، په هغه ذات مې دِ قَسَم وي د چا په قبضه کښې چې زما ځان دے! د صُور دائره [يعنې ګولائي] د زمکې او آسمان د پلنوالي

[1] ...تفسير صراط الجنان، پاره:30، سورة القارِعه، جلد:10، صفحه:804۔

په شان ده، **اللّٰه** پاك به حضرت اسرافيل عَلَيۡهِ السَّلَام ته په هغه صُور کښې درې ځله د پوکلو حکم فرمائي: (1) **نفخهٔ فَزَع** (يعنى د ويرې پوکے) (2) **نفخهٔ صَعق** (يعنى د مرګ پوکے) (3) **نفخهٔ قِيام** (يعنې د مرګ نه پس د بيا د راپاڅولو پوکے)

## اَوَلَنِي ځل د صُور پوکلو بيان

بيا د مدينے جانان صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د درې پوکو (يعني د صُور پوکلو) په تفصيل سره بيان اوفرمائيلو: **اللّٰه** پاک به په اول ځل د صُور پوکلو حکم داسې اوفرمائي: **اُنۡفُخۡ نَفۡخَةَ الۡفَزَعِ** يعني د ويرې پوکے اووهه! حضرت اسرافيل عَلَيۡهِ السَّلَام به صُور اُوپوکى، دا خوفناک آواز چې واورې نو د زمکې او آسمان اوسيدونکي به اويريږي، خو د چا د پاره چې **اللّٰه** پاک اوغواړي هغوئي به **محفوظ** اوساتي، حضرت اسرافيل عَلَيۡهِ السَّلَام به د **اللّٰه** پاک په حکم د صُور آواز اوکړد کړي (يعني د ډير وخته پورې به صُور پوکل جاري اوساتي) د هغې د سختئ [او زور] په وجه به غرونه داسې رَوَان شي لکه څنګه چې وريځ روانه وي، تر دې پورې چې ريزه ريزه به شي، په زمکه به ډيره سخته زلزله راشي، لکه څنګه چې **اللّٰه** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| يَوۡمَ تَرۡجُفُ الرَّاجِفَةُ ۙ﴿۶﴾ تَتۡبَعُهَا الرَّادِفَةُ ؕ﴿۷﴾ قُلُوۡبٌ يَّوۡمَئِذٍ وَّاجِفَةٌ ۙ﴿۸﴾ | [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان : په کومه ورځ به چې ريدونکي اورپيږي، په هغې پسې به راځي وروستو راتلونکې، زړونه به په هغه ورځ ويريدلي وي- (پارہ30،سورۃالنازعات:86) |

نبيِّ کريم رَءُوۡفٌ رَّحِيۡم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نور اوفرمائيل: هغه وخت کښې به زمکه په سمندر کښې د هغه نښتې کشتئ په شان وي کومې ته چې د سمندر چپے خپيړې ورکوي او په کشتئ کښې سوارهٔ خلق پړمخ پريوځي، هغه وخت کښې به بچو ته پئ

ورکوونکو میندو [موریانو] نه خپل بچي هیر شي، د حملدارو زنانؤ نه به حمل اوغورزیږي، ماشومان به د ډیرې ویرې نه بوډاګان شي، شیطانان به د زمکې غاړو ته تښتي خو فرشتې به ئې په وهلو وهلو واپس رادیکه کوي، هغه وخت به عجیبه چغې او سُورے وي، خلق به اخواه دیخوا منډې وهي، یو بل ته به نعرے وهي، خلق به لا په دې حال کښې وي چې زمکه به اوچوي، په دغه وخت کښې به په خلقو باندې داسې ویره او داسې دهشت راشي چې د هغې کیفیت **الله** پاک ته ښه معلوم دے، بیا به دې سره سمدستي اسمان د وراستو شوو سپینو زرو په شان شی او اوبه شلیږي، نمر او سپوږمۍ به بےنوره شي او آسمان به د خپل ځائے نه راښکلے شي۔

## په دوئیم ځل د صُور پوکلو بیان

خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نور اوفرمائیل: تر څومره وخته پورې چې **الله** پاک غواړي خلق به په دغه آفت او بلا کښې اخته وي، بیا به **الله** پاک حضرت اسرافیل عَلَیْہِ السَّلَام ته د **نفخهِ صَعْق** (یعني په صُور کښې د مرګ د پوکي وهلو) حکم اوفرمائي۔ دا ځل به د صُور پوکلو سره د زمکې او اسمان اوسیدونکو ته مرګ راشي، خو! چا له چې **الله** پاک غواړي (هغوئي ته به هغه وخت کښې مرګ نه راځي) بیا به حضرت **مَلَکُ الْمَوت** عَلَیْہِ السَّلَام د ربِّ جبّار و قهّار په بارګاه کښې عرض اوکړي: یارب! د زمکې او اسمان اوسیدونکي ټول مړه شُو خو چې څوک تا ژوندي اوساتل۔ **الله** پاک هغه ژوندي اوسیدونکي ډیر ښه پیژني خو بیا به هم فرمائي: څوک څوک باقي پاتې دي؟ **مَلَکُ الْمَوت** عَلَیْہِ السَّلَام به عرض اوکړي: یارب! ته ژوندے ئې، تا ته به کله هم مرګ نه راځي۔ ستا نه علاوه د عرش اوچتوونکي فرشتے ژوندۍ دي، حضرت جبرائیل، حضرت میکائیل عَلَیْہِمَا السَّلَام ژوندي دي او زه هم ژوندے یم. بیا به حضرت جبرائیل او حضرت میکائیل عَلَیْہِمَا السَّلَام باندې مرګ راشي، دوئي به هم د مرګ ذائقه اوڅَکي، بیا به **مَلَکُ الْمَوت** عَلَیْہِ

السَّلَام عرض اوکړي: اے مالکه! جبرائيل و ميکائيل عَلَيْهِ السَّلَام هم په مرګ اُوده شول- **اللّٰه** پاک به فرمائي: اوس څوک باقي پاتې دي؟ عرض به اوکړي: مالکه! ته ژوندے ئې، او تا ته به هيڅ کله مرګ نه راځي، ستا نه علاوه د عرش اوچتوونکې فرشتے ژوندۍ دي او زه ژوندے يم- بيا به اول د عرش اوچتوونکو فرشتو ته او بيا به **مَلَکُ الْمَوت** عَلَيْهِ السَّلَام ته هُم مرګ راشي- په دغه وخت کښې به صرف اللّٰه **واحِد و قهّار** باقي وي، هغه بےنيازه دے، نه د هغه څوک پلار شته، نه د هغه څوک اولاد شته، هم هغه اول دے، او هم هغه آخر دے، بيا به **اللّٰه** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ؕ (پاره24،سورۂ مومن:16) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: نن د چا بادشاهي ده؟ |

هغه وخت کښې به څوک جواب ورکولو والا نه وي، **اللّٰه** پاک به پخپله اوفرمائي:

| | |
|---|---|
| لِلّٰهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ (پاره24،سورۂ مومن:16) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: د يو اللّٰه چې په ټولو غالب دے- |

بيا به زمکه او اسمان داسې راغونډ کړے شي لکه څنګه چې کاغذ راغونډوي، بيا به د دې زمکې په ځائے بله زمکه خوره کړے شي، د آسمان په ځائے به بل آسمان جوړ کړے شي- **اللّٰه** پاک به درې ځله اوفرمائي: زه جبّار يم، څوک چې زما سره د شريکيدلو دعوٰي کوي، رامخامخ دِ شي- هغه وخت به څوک د سر اوچتولو والا نه وي- بيا به مخلوق په هغه نوې زمکه باندې واچولے شي، کوم چې مخکښې په قبرونو کښې وو، بيا به د نوې زمکې په قبرونو کښې وي، څوک چې مخکښې د زمکې په سر باندې مړۀ پراته وو، بيا به د نوې زمکې د پاسه پراته وي-

## دريم ځل باندې د شپيلۍ پوکلو بيان

خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل د غم نه ډک بيان کښې نور اوفرمائيل: **اللّٰه** پاک به

اوفرمائي: عرش اوچتوونکي فرشتے راژوندۍ شئ. پس هغه به ژوندۍ شي- بیا به حکم اوشي: جبرائیل و میکائیل عَلَیْہِمَا السَّلَام ژوندي شئ- هغوئي به هم ژوندي شي- بیا به **اللہ** پاک حضرت اسرافیل عَلَیْہِ السَّلَام ته حکم اوفرمائي: د مرګ نه پس پاڅولو د پاره صور اُوپوکه---!!! حضرت اسرافیل عَلَیْہِ السَّلَام به په دریم ځل صُور پوک کړي، هغې سره به ټول روحونه رابهر شي، **اللہ** پاک به اوفرمائي: زما د عزت و جلال په قسم! ټول روحونه خپلو خپلو جسمونو ته لاړ شئ- چنانچه ټول روحونه به خپلو خپلو جسمونو ته لاړ شي، بیا به زمکه کولاؤ شي او تاسو ټول به د **اللہ** پاک په بارګاه کښې حاضر شئ- **اللہ** پاک فرمائي: (1)

| | |
|---|---|
| مُّهْطِعِیْنَ اِلَى الدَّاعِؕ یَقُوْلُ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا یَوْمٌ عَسِرٌ ﴿۸﴾ (پاره27،سورة القمر:8) | مفهوم ترجمه: د هغه بلونکي طرف ته به کافران په منډه روان وي او وائي به: دا ډیره سخته ورځ ده- |

اے عاشقان رسول! دا ده قارعه، دا ده زړۀ درزَه وُونکې، دا دے هغه قیامت د کوم چې مونږ سره وعده شوې ده- اوس د سورۂ قارعه آیتونه واورئ! **اللہ** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَلْقَارِعَةُۙ ﴿۱﴾ مَا الْقَارِعَةُۚ ﴿۲﴾ وَ مَاۤ اَدْرٰىكَ مَا الْقَارِعَةُؕ ﴿۳﴾ (پاره30،سورۂ قارعه:1-3) | مفهوم ترجمه: زړه درزوونکې، څه ده هغه زړه درزوونکې، او تا ته څه معلومه ده چې زړه درزوونکې څه ده؟ |

## د سورۂ قارعه د آیت: 6 او 7 وَضاحت

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! قیامت به د پنځوس زرو کالو ورځ وي، آه! د میدانِ محشر ګرمي---!! خلق به په خوَلو کښې لـمبیږي، دومره خوله به اوځي چې په اویا ګزه

1...مُسندِ اِسحاق بن راهویه، مُسنَدِ ابی هریره، جلد:1، صفحه:261، حدیث:10، ملتقطاً-

زمکه کښې به جذب شي،[1] بيا چې کومه خوله زمکه نه شي جذب کولے هغه به بره راخيژي، د چا د ګيټو پورې به وي، د چا د زنګونانو پورې به وي، د چا د ملا پورې به وي، د چا د سينے پورې به وي، د چا د مرئ پورې به وي او د کافرانو د خُلو خُلو پورې به وي چې په هغې کښې به غوپې خوري- په هغه ګرمئ کښې به د تندې څه حال وي، هغه د بيانولو نه بهر دی، ژبې به اوچې شي او د غنې په شان به شي، زړونه به را اُوخوټکيږي او مرئ له به راشي- تقريباً پينځه ويشت [25] زره کاله پورې به خلق په داسې حال کښې وي او په انتظار کښې به وي چې حساب به کله شروع کيږي، آخر به د شافِعِ محشر، محبوبِ ربِّ اکبر صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په شفاعت باندې حساب شروع شي.[2]
د سورۂ قارعه د شپږم نه يوولسمه آيته پورې هم د دې حساب ذکر شوے دے، چنانچه : شپږم او ووم آيت کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَاَمَّا مَنۡ ثَقُلَتۡ مَوَازِیۡنُهٗ ۙ﴿۶﴾ فَهُوَ فِیۡ عِیۡشَةٍ رَّاضِیَةٍ ؕ﴿۷﴾ (پاره30،سورۃالقارعۃ:6-7) | ترجمه: نو بهر حال د چا تلې چې درنې شي هغه به په ډير خوښ ژوند کښې وي. |

يعنې د چا نيکئ چې زياتې وي، ميزانِ عمل باندې چې د چا د نيکو تله درنه وي، هم هغه ته به جنت ورکولے کيږي او هغه به په ډير خوښ ژوند کښې وي.

## د جنت ښکلے ژوند

بهار شريعت کښې دي: ❁ جنت يو مقام دے چې **اللّٰه** پاک د ايمان والو د پاره جوړ کړے دے❁ په جنت کښې هغه نعمتونه دي کوم چې نه يوے سترګې ليدلي دي، نۀ

[1]...بخاری، کتاب:الرقاق، صفحہ:1603،حدیث:6532۔
[2]...مسند احمد، مسند الشامیین، جلد:7، صفحہ:216،حدیث:17902۔

غوړونو اوريدلي دي، نه د چا په زړه کښې د هغې خيال تير شوے ❁ په جنت کښې د هيرو او جواهراتو محلونه دي ❁ د جنت ديوالونه د سرو او سپينو زرو د خختو او د مشکو د ختې نه جوړ شوې دي ❁ په جنت کښې څلور سيندونه دي: يو د اوبو، دويم د پئيو يعني شودو، دريم د شهدو، او څلورم د شرابو، د دې سيندونو نه نهرونه راووځي او د هر محل د لاندې تيريږي ❁ د جنت شراب د دنيا د شرابو په شان نه دي، هغه پاک دي، نه په هغې کښې تروش والے شته، او نه نشه ❁ جنتيانو ته به په جنت کښې هر قسمه د خوندور نه خوندور خوراکونه ملاويږي ❁ څه چې غواړي فوراً به د هغوئي مخې ته حاضر وي ❁ که د اوبو وغيره خواهش ئې اوشي نو څومره چې د هغوئي خواهش وي، بالکل د اندازے مطابق اوبه، شراب، او د شهدو کوزے به پخپله د هغوئي لاس ته راشي ❁ په جنت کښې نه نجاست شته، نه ګندګي، نه توکاڼې، نه د پوزے ګندګي نه د بدن خِيرے ❁ جنت کښې به د هر کس سر ته کم از کم لس زره خادمان وي ❁ په هغوئي کښې به د هر خادم په يو لاس کښې د سپينو زرو پيالئ او په بل لاس کښې د سرو زرو پيالئ وي، په هره پيالئ کښې به نوي نوي نعمتونه وي ❁ جنتي کس چې څومره نعمتونه خوري خوند به ئې زياتيږي ❁ په هره نوړئ کښې به اويا خوندونه وي ❁ هر خوند به د بلې نه جدا وي ❁ د جنتيانو به نه لباس خيرَنِيږي، او نه به ئې ځواني ختميږي او هميشه هميشه به په جنت کښې اوسيږي.(1)

يو روايت کښې دي: کله چې جنتيان جنت ته لاړ شي نو **الله** پاک به فرشتو ته فرمائي: زما خوږو بندګانو باندې خوراک اوکړئ-----!! هغوئي ته خوندور خوراکونه پيش کړئ، هغوئي ته به په هره نوړئ کښې بيل بيل خوند ملاويږي، کله چې هغوئي د خوراک نه

---

1 ...بہار شریعت، حصہ:1، جلد:1، صفحہ:152-157 ملتقطاً۔

فارغ شي نو فرشتو ته به حکم اوشي: زما بندګانو باندې شربت اوڅښئ----!! بيا به اهلِ جنت ته بهترينه شربت پيش کړے شي، هغوئي ته به په يو يو ګُوټ کښې بيل بيل خوند ملاويږي کله چې اهلِ جنت د څښلو نه فارغه شي نو **اللّٰه** پاک به فرمائي: اے زما بندګانو! زه ستاسو رب يم، ما تاسو سره کړې وعده پوره کړه، اوس زما نه اوغواړئ! زه به تاسو ته درکووم- جنتيان به عرض اوکړي: اے زمونږه خوږه ربه! مونږ ستا نه ستا رضا طلب کوو- **اللّٰه** پاک به فرمائي: بےشکه زه ستاسو نه راضي شوم، نن ستاسو د پاره لوئے انعام دے. داسې عزت کوم چې د دې ټولو نعمتونو نه اعلٰي دے بس بيا به **اللّٰه** پاک اهلِ جنت ته خپل ديدار عطا کړي[1] ❁ خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د هغه ذات قسم! د چا په قبضه کښې چې زما ساه ده، جنتيانو ته به د **اللّٰه** پاک ديدار د باقي نعمتونو نه ډير خوښ وي.[2]

اے عاشقان رسول! دا د جنت خوښ ژوند دے او دا به چا ته ملاويږي؟ د چا د نيکيو تله چې درنه وي- الله دِ نکړي! د چا د ګناهونو تله چې درنه وي، د چا نيکئ چې کمې شي، د هغه به څه حال وي---؟ **اللّٰه** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِیْنُهٗ ۙ﴿۸﴾ فَاُمُّهٗ هَاوِیَةٌ ؕ﴿۹﴾ وَ مَاۤ اَدْرٰىكَ مَا هِیَهْ ؕ﴿۱۰﴾ نَارٌ حَامِیَةٌ ۠﴿۱۱﴾ (پاره30،سورة القارعة:8-11) | ترجمه: او بهر حال د چا تلې چې سپکې شي- نو د هغه ځائے به هاويه وي- او تا ته څه معلوم چې هغه څه دي؟ يو لـمبې وهونکے اور دے- |

معلومه شوه چا چې په دنيا کښې د باطل تابعداري کړې وي، څوک چې ګنهګار وي، د چا چې ګناهونه زيات وي، نيکيانې ئې کمې وي، که د **اللّٰه** پاک رحمت اُونه شي نو

1 .. تنبيه الغافلين، صفحه: 38-
2... تنبيه الغافلين، صفحه: 37-

داسې کس به په ورځ د قيامت د جهنم خشاک جوړ شي.

خُدائے قہار ہے غضب پر، کھلے ہیں بدکاریوں کے دفتر

بچالو آکر شفیعِ محشر، تمہارا بندہ عذاب میں ہے

**وضاحت**: يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د قيامت ورځ ده، نن **الله** پاک کمال غضب ښکاره کړے دے، زما د ګنهګار اعمال نامه کولاوه کړے شوي ده، اے شفاعت کوونکيه آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تشريف راوړئ او بچ مې کړئ! ستاسو غلام په عذاب کښې ګرفتاريدو والا دے-

## د جهنم د ويرونکي اور بيان

❁ جهنم د **الله** پاک د قهر و عضب مقام دے ❁ د جهنم اُور انتهائي ګرم دے، حديثِ پاک کښې دي: دا د دنيا اور د جهنم د اور اويايمه حصه ده، که دا د دنيا اور په اوبو باندې دوه ځله يخ کړے شوے نه وے نو تاسو به د دې نه فائده نه شوه اوچتولے ❁ د دنيا اور د **الله** پاک نه دا سوال کوي چې اے **الله** پاکه! ما د جهنم اور ته مه واپس کوه ❁ حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې په قسم سره اووئيل: که جهنم د ستنې د سورې همره کولاوو کړے شي نو د ټولې زمکې اوسيدونکي به د دې د ګرمئ نه مړۂ شي ❁ د رواياتو مطابق د جهنم اور زر کاله بل کړے شو، تر دې پورې چې هغه تک سور شو، بيا زر کاله بل کړے شو، تر دې پورې چې هغه تک سپين شو، بيا زر کاله بل کړے شو تر دې پورې چې هغه تک تور شو، اوس هغه تک تور دے، چې په هغې کښې د رڼا نوم هم نشته۔[1]

[1] ...بہارِ شریعت، حصہ:1، جلد:1، صفحہ:163-165 ملتقطاً۔

| | |
|---|---|
| ہائے حُسنِ عَمل نہیں پلے | حشر میں میرا ہوگا کیا یارَبّ! |
| خوفِ دوزخ کا آہ! رحمت ہو | خاکِ طیبہ کا واسطہ یارَبّ! |
| میرا نازُک بدن جہنَّم سے | از طفیلِ رضا بچا یارَبّ! [1] |

## په جهنم کښې الله پاک ته د آواز کوونکي واقعه

صحابي رسول حضرت عبدالله بن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے، يو ځل يو کس په بارګاه رسالت کښې حاضر شو، او عرض ئې اوکړو: يارسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! آيا داسې يو مؤمن هم شته چې په جهنم کښې به باقي پاتې شي؟ خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ورته اوفرمائيل: آؤ! يو کس چې د جهنم په جَوَره کنده کښې به وي او په اوچت آواز به **يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ** وائي، د هغهٔ آواز به دومره اوچت شي، چې حضرت جبرائيل عَلَیْہِ السَّلَام به ئې واوري نو په حيرانتيا سره به اُووائي: **اَلْعَجَب! اَلْعَجَب!** يعني عجيبه خبره ده!، عجيبه خبره ده! بيا به جبرائيل عَلَیْہِ السَّلَام د عرشِ الٰهي په وړاندې حاضر شي، سر به په سجده کيږدي- **الله** پاک به فرمائي: **اِرْفَعْ رَاْسَکَ يَاجِبْرَائِيْل**! اے جبرائيل! خپل سر اوچت کړه! حضرت جبرائيل عَلَیْہِ السَّلَام به سر اوچت کړي، **الله** پاک به فرمائي: اے جبريل! تا څه عجيبه خيز اوليدو؟ جبرائيل به عرض اوکړي: يا **الله** پاکه! ما يو آواز واوريدو، يو کس د جهنم په جَوَره کنده کښې دے- او د **يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ** نعرے وهي. **الله** پاک به فرمائي: اے جبرائيله عَلَیْہِ السَّلَام! د مالِک (يعني د جهنم د داروغه) خواه ته لاړ شه! هغه ته اووايه: هغه کس کوم چې **يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ** وائي، هغه د جهنم نه راووباسه----!!

---

[1] ...وسائلِ بخشش، صفحہ:80۔

حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام به د جهنم دروازے ته تشريف يوسي، دروازه به اوټکوي، حضرت مالک عَلَيۡهِ السَّلَام به بهر راشي، حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام به هغۀ ته د **الله** پاک حکم واوروي، حکم چې واوري نو حضرت مالک عَلَيۡهِ السَّلَام به جهنم ته دننه لاړ شي- خوږ آقائے کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څنګه چې مور خپل بچي پيژني، حضرت مالک عَلَيۡهِ السَّلَام هم دغه شان جهنم پيژني، د دې باوجود به هغه د **يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ** نعرے وهلو والا کس پيدا نکړي او بهر به تشريف راوړي، حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام ته به عرض اوکړي: اے جبرائيله عَلَيۡهِ السَّلَام! جهنم ډيره اوږده ساه اخستې ده، په دې وجه دا پته نه لګي چې کوم څيز کانړے دے او کوم څيز اوسپنه او کوم انسان دے- حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام به په دوئيم ځل د عرشِ الٰهي په وړاندې حاضر شي، سر به په سجده کيږدي- **الله** پاک به ارشاد فرمائي: اے جبرائيله عَلَيۡهِ السَّلَام! سر اوچت کړه---! تا **يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ** نعرے وهلو والا کس ولے رانۀ وستو- حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام به عرض اوکړي: مولٰي! د جهنم داروغۀ مالِک عَلَيۡهِ السَّلَام معذرت اوکړو، هغه وائي: جهنم ډيره اوږده ساه اخستې ده، په دې وجه د کانړي، اوسپني او انسانانو په مينځ کښې څه فرق نه کيږي، يو څيز هم نه پيژندل شي- **الله** پاک به فرمائي: اے جبرائيله عَلَيۡهِ السَّلَام! مالک ته اووايه! زما بنده د جهنم په فلانکۍ کنده کښې په فلانکي کوټ کښې، داسې داسې پروت دے-

حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام به په دوئيم ځل د جهنم دروازے ته لاړ شي او حضرت مالک ته به د **يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ** نعرے وهلو والا کس پته اوښائي، حضرت مالک عَلَيۡهِ السَّلَام به جهنم ته لاړ شي نو او به ويني چې يو کس دے چې د هغۀ ښپې د هغۀ د تندي سره او لاسونه ئې د څټ سره ترلي شوي دي او د جهنم ماران او لړمانان د هغه نه راتاؤ شوي دي- حضرت مالک عَلَيۡهِ السَّلَام به د هغه زنځيرونه مات کړي او د جهنم نه به ئې

راووباسي او د حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام په حواله به ئې کړې- حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام به ئې ځان سره د عرشِ الٰهي په وړاندې حاضر کړي او سر به په سجده کيږدي- الله پاک به فرمائي: اے جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام! سر اوچت کړه- حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام به سر اوچت کړي- بيا به الله پاک هغه بنده ته فرمائي: اے زما بنده! آيا ما ستا بهتره تخليق نه وو کړے؟ آيا ما ستا طرف ته رسولان نه وو درليږلي؟ آيا هغه رسولانو تا ته زما کتاب نه وو اورَولے؟ آيا زما رسولانو تا ته د نيکئ حکم نه وو درکړے؟ ته ئې د بدئ نه منع کړے نه وے؟ هغه کس به د دې ټولو خبرو اقرار اوکړي (يعني وائي به: آؤ! يا الله پاکه! تا زما ډير ښه تخليق کړے وو، ستا رسولانو هم تشريف راوړے وو، هغوئي ستا احکامات هم اورولي وو)- الله پاک به فرمائي: بيا تا فلانکئ فلانکئ ګناه ولے کوله؟ بنده به عرض اوکړي: يا الله پاکه! ما په خپل ځان باندې ظلم کړے وو چې د هغې په سزا کښې زه په جهنم کښې واچولے شوم، د دې باوجود هم زما اميد مات نه شو، ما ستا د رحمت اميد لرلو، ځکه ما يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ وئيلو، مولٰي! تا زه په خپل فضل سره د جهنم نه راووباسلم، يا الله پاکه! اوس په ما باندې رحم اوکړې - الله پاک به فرمائي: اے فرشتو! ګواه شئ----! ما په دې بنده باندې رحم اوکړو او دا مې معاف کړو-[1]

اے عاشقان رسول! دا دے هغه جهنم چې يوه ساه واخلي نو په هغې کښې د کاڼړي، اوسپنې او انسان په مينځ کښې فرق نه کيږي، تر دې پورې چې مالک عَلَيۡهِ السَّلَام چې جهنميان داسې پيژني لکه مور چې خپل اولاد پيژني، دا هم د کاڼړي اوسپنې او انسان په مينځ کښې فرق نه شي کولے- دا هغه جهنم دے، هغې ته به هٔغه خلق ځي د چا د ګناهونو تله چې درنه شي.

[1]...شرح مسند ابي حنيفه، صفحه:20-24-

گنہگار ہوں میں لائقِ جہنّم ہوں | کرم سے بخش دے مجھ کو نہ دے سزا یاربّ!

خوږو اسلامي وروڼو! مونږ اوس ژوندي يو، زمونږ ساه چليږي، صبا چې مونږ مړه شو نو په دې دنيا کښې کړي اعمال خو به ځان سره يوسو ❁خو که مونږ په دنيا کښې ښے ډيرې نيکئ کړي وي ❁ ښه ډير لمُونځونه مو هُم کړي وي ❁ روژے مو هُم نيولې وي ❁ صدقه او خيرات مو هُم کړي وي ❁ د نيکئ ډير ډير دعوت مو ورکړے وي ❁ د والدينو خدمت مو هُم کړے وي او ❁ د ګناهونو نه مو هُم ځان بچ ساتلے وو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم د الله پاک په رحمت سره، د هغۀ د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شفاعت سره صبا په ورځ د قيامت به زمونږ د نيکو تَله درنه وي او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! مونږ به د جنت حق دار جوړيږو او ❁ الله دِ نکړي که په دنيا کښې مو ګناه کړي وي ❁ قصداً لمُونځونه مو قضا کړي وي ❁ سودي لين دين مو جاري ساتلے وي ❁ د والدينو زړۀ مو خفه کړے وي ❁مسلمانانو ته مو تکليفونه ورکړي وي ❁ په فلمونو ډرامو کتلو وغيره کښې مو وخت برباد کړے وي ❁ آه---! که د ګناهونو په سبب صبا په ورځ د قيامت د الله پاک د رحمت نه محرومه پاتې شو، د خوږ آقائے کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت مو نصيب نه شي نو سخته پريشاني به وي، که زمونږ د ګناهونو تله درنه شوه، نيکيانېمو کمې شوې نو آه----!!! مونږ به د جهنم حقدار جوړ شو.

مجھے بخش دے بے سبب یاالٰہی! | نہ کرنا کبھی بھی غضب یاالٰہی!
گنَاہوں نے ہائے کہیں کا نہ چھوڑا | میں کب تک پھروں خوار اب یاالٰہی!
مجھے نارِ دوزخ سے ڈر لگ رہا ہے | ہو مجھ ناتواں پر کرم یاالٰہی!
خُدایا بُرے خاتمے سے بچانا | پڑھوں کلمہ جب نکلے دم یاالٰہی!

گناہوں سے بھرپور نامہ ہے میرا مجھے بخش دے کر کرم یاالٰہی ![1]

اے عاشقان رسول! د مرګ نه پس په هغه نه ختميدونکي ژوند کښې د راحت و آرام موندلو د پاره، جنت ته تللو د پاره مونږ له په دې دنيا کښې نيک عمل کول ضروري دي، د ګناهونو نه بچ کيدل ضروري دي، لِهذا د جهنم د عذابونو تَصَوُّر اوکړئ! د خوفِ خدا نه اولړزيږئ او جنت ته د تللو په حرص کښې هم د نن نه رينښتونې توبه اوکړئ او په نيکو کښې مصروفه شئ.

کچھ نیکیاں کمالے جلد آخرت بنالے کوئی نہیں بھروسہ اے بھائی! زندگی کا

## د جنت طلبګارو د پاره پينځه مدني ګلونه

فقيه اَبُواللَّيث سمرقندي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي: کوم کس چې د جنت طلبګار وي، په هغه لازم دي چې په دې پينځو کارونو هميشوالے اختيار کړي:

**(1)**: ځان دِ د ټولو ګناهونو نه هر وخت لرې ساتي (ولے چې ګناه د الله پاک د ناراضتيا سبب دے او د الله پاک ناراضي بنده جنت نه د محرومه کوي او د جهنم حقدار ئې جوړوي) **(2)**: په لږه دنيا راضي اوسئ ځکه چې په يو روايت کښې دي: دنيا پريښودل د جنت قيمت دے **(3)**: د نيکو حريص جوړ شئ- د هر قسمه نيکئ کولو کوشش کښې اوسئ (يعني يوه نيکي هم وړه مه ګڼړئ) کيدے شي چې هم هغه نيکي د بخښنې سبب جوړه شي **(4)**: د نيکانو خلقو سره مينه ساتئ، د هغوئي سره ناسته کوئ، هغوئي سره ملګرتيا کوئ او د هغوئي په صحبت کښې اوسيږئ ځکه چې کله د نيکانو خلقو بخښنه اوشي نو هغوئي به ځان سره د ناستو پاستو خلقو

[1] ...وسائل بخشش، صفحہ:107،110۔

شفاعت هم کوي او ځان سره به ئي جنت ته هُم بوځي.[1] حديثِ پاک کښې دي: اَنْتَ مَعَ مَنْ اَحْبَبْتَ په ورځ د قيامت به ته د هغه چا سره ئي چا سره چې په دُنيا کښې مَحَبَّت ساتې[2] **(5):** جهنم نه د بچ کيدلو او جنت ته تللو د پاره ډيرې دعاګانې کوئ- حضرت انس بن مالک رَضِیَ اللہُ عَنْهُ نه روايت دے: څوک چې د **اللّٰه** پاک نه درې ځله د جنت سوال اوکړي نو جنت پخپله د **اللّٰه** پاک په بارګاه کښې عرض کوي: يا **اللّٰه** پاکه! دې (دعا کوونکي) ته جنت کښې داخله ورنصيب کړې او کوم بنده چې درې ځله د جهنم نه د بچ کيدلو دعا اوکړي نو جهنم پخپله د **اللّٰه** پاک په بارګاه کښې عرض کوي: يا **اللّٰه** پاکه! دا بنده د جهنم نه محفوظه اوساتې-[3]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ✿✿✿ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دولسو ديني کارونو کښې يو کار: د جُمات درس

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِيني تحريك دعوتِ اسلامي په ټوله دُنيا کښې د قرآن و سُنَّت پيغام عام کولو کښې مصروف دے، تاسو هم د دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامل شئ او 12 ديني کارونو کښې په اخلاص سره خپل کردار ادا کړئ او د ډيرو ثوابونو حقدار جوړ شئ. په دې 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار "**جُمات درس**" هم دے. د دې ديني کار بےشميره ديني او دنياوي فائدے دي، ✿ "**جُمات درس**" سره جماتونه آباديږي، ✿ "**جُمات درس**" سره د انفرادي کوشش کولو موقع نصيب کيږي. ✿ "**جُمات درس**" سره د لمُونځ کوونکو په شمير کښې اِضافه

---

1... تنبیہ الغافلین، صفحہ:40-41۔

2... مسلم، کتاب البرّ والصّلۃ، صفحہ:1017،حدیث:2639۔

3...ترمذی، کتاب:صفۃ الجنۃ، صفحہ:605، حدیث:2572 ۔

کیږي. ❁ د "جُمات درس" په برکت سره د نیکئ او خیر د خبرو زده کولو او نورو ته د زده کولو موقع نصیب کیږي.

## د "جُمات درس" یو مدني سپرلے

د کوټ مومن (ضلع سرګودها، پنجاب پاکستان) خوا ته نِژدې کلي لَلیاني اوسیدونکي یو اسلامي ورور بیان دے چې: زه د ګناهونو په تِیَارو کښې ورك ووم، د ګناه کولو په وجه زما زړه سخت شوے وو، بد نظري او د مور و پلار نافرماني کول زما عادت جوړ شوي وو، زما د ګناهونو ډك ژوند ته د هدایت رڼړا داسې راغله چې یوه ورځ د دعوتِ اسلامي دیني ماحول سره وابسته یو اسلامي ورور په دعوت په درس کښې شریك شوم، د درس په الفاظو کښې داسې اثر وو چې زما زړه ته کوز شو، د ګناهونو نه مې زړه تور شو، په تیر ژوند مې افسوس اوکړو. آه! د ژوند یوه لویه حصه مې په غفلت کښې تیره شوي ده. د درس په ذریعه د نصیحت قیمتي ملغلرو زما زړه را ژوندے کړو، ما هُم هغه وخت توبه اوکړه او آئنده د ګناه نه کولو پخه اراده مې اوکړه. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د یو څو ساعتونو د پاره زما په درسِ فیضانِ سُنَّت کښې شریك کیدل زما د ژوند او آخرت د بِهترئ ذریعه جوړه شوه. اوس زه عطاري یم، پینځه وخته د جَمعې سره لمُونځ په وړومبي صف کښې د ادا کولو سعادت حاصلووم.[1]

## ذِکرُ الله کول سنتِ مصطفے دے

د نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: مُفرِد سبقت یوړو؟ عرض اوکړے شو: مُفرِد څوک دي؟ اوئې فرمائیل: په ذِکرُ الله کښې د خپل ځان نه بےخبره (یعني ذوق،

---

[1] ...چند گھڑیوں کا سودا، ص 11 ملتقطاً۔

شوق سره هر وخت په ذکر لله کښې مصروفه اوسيدونکي) خلق.[1]

**اے عاشقان رسول!** دالله ذِکر په کثرت کول سنتِ مصطفٰے دي ❁ اُمُّ المُؤمنين حضرت عائشه صديقه، طَيِّبه طاهره رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هر وخت په ذِکرُ الله کښې مشغول اوسيدلو.[2] ❁ د نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارک وو چې په ناسته ولاړه تللو راتللو خوړلو څښلو په ويښه په اودو د اودس کولو وخت کښې د نوو کپړو اغوستلو په وخت کښې، په سورلئ د پاسه، په سفر کښې، د سفر نه واپسئ کښې، جمات ته تللو راتللو کښې، د سيلئ او طوفان په وخت کښې د تندر په وخت کښې، غرض چې په هر وخت کښې به ئې ذِکرُ الله جاري ساتلو او مختلفې دعاګانې به ئې په ژبه مبارکه جاري وې❁ په خوشحالئ او غم کښې سحر او ماښام کومه يوه داسې موقعه ده چې حضور صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پکښې دعا نه وې لوستلې ❁ صرف د ورځې هم نه بلکه د شپې په خاموشئ کښې به هم په دعاګانو او ذکرِ الٰهي کښې مشغول اوسيدلو ❁ تر دې پورې چې د وفات په وخت کښې هم د حضور صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ژبه مبارکه دعا جاري وه.[3]

**خوږو اسلامی ورڼړو!** مونږ له هم پکار دي چې د خوږ آقائے کريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سنتو باندې عمل اوکړو او د **الله** پاک ډير ډير ذکر کوو. په **مرآۃُ المناجيح** جلد:3، صفحه: 304 کښې دي: د ذِکر درې قسمونه دي: **(1):** ذکرِ لِساني (يعني په ژبه ذکر) **(2):** ذکرِ جِناني (يعني په زړۀ کښې ذکر کول) **(3):** ذِکر ارکاني (يعني خپل اندامونه د

1...شُعَبُ الْاِیْمان، باب فِی محبةِ الله، فصل فی اِدَامَةِ الذِّکر، جلد:1، صفحه:390، حديث:505۔

2...بخاری، کتابُ: الاذان، صفحه:221۔

3...سيرتِ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:598، بتغير قليل۔

نیکۍ په کار کښې مصروفه ساتل) دغه شان د **اللّٰه** پاک د نومونو ذکر کول دا بلاواسطه ذکر دے او د **اللّٰه** پاک د محبوبانو ذکر په محبت سره کول دا بالواسطه ذکر دے۔

میری زبان تَر رہے ذِکْر و دَرُود سے | بے جا ہنسوں کبھی نہ کروں گفتگو فُضُول (1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

1 ...وسائلِ بخشش، صفحہ: 243۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

---

1 ...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَۂ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکۍ لیکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ✿✿✿ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

2... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

3... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵